SHARIAT WEEKLY
شريعت
اوونيزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږی
دافغانستان دطالبانو داسلامی تحريك مركزی نشراتی ارگان
دريم کال اوه ويشتمه گڼه پرله پسي (۱۲۷) يكشنبه د۱٤۱۹هق کال دمحرم الحرام (۱٤) ۱۳۷۷ هـ ش کال د غويي دمياشتي (۲۰) د۱۹۹۸ميلادي کال مي (۱۰)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېـــر نـــږدي دی تقوا(پرهيزگـــاری) ته .

(سورة المائدة)

د کابل ښار د برقي سيستم د لاپياوړتيا پـــه خـــاطر د شپيته زره کيلو واټو په ظـــرفيت نوي سركـــيټ پرانـــستل شو

د اوبو او برېښنا وزارت د مسؤولينو د هڅو په نتيجه کي د تغلو د برق له فابريکي څخه د کابل ښار د برقي سيستم د لا پياوړتيا په منظور د شپيته زره کيلو واټو په ظرفيت نوي سرکيټ پرانيستل شو .

په هغه غونډه کي چي له همدي امله د سروبي ولسوالي د تغلو د برق په فابريکه کي جوړه شوي وه لمړي د حافظ غلام رحمن لخوا د قران عظيم الشان څو مبارك ايتونه ولوستل شول وروسته د بهرنيو چارو وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د موضوع په باب هر اړخيزه وينا وکړه او زياته يې کړه چي اسلامي امارت تل پدي هڅه کي دي چي د خپلو خلكو لپاره د ارام ژوندانه ضرورتونه پوره کړي . وروسته د تغلو د برق د فابريکي د کارکوونکو په نمايندگي محترم عبدالستار شريفي د خپلو دندو د ښه سرته رسولو په لاره کي بشپړ تياري څرگند کړ . څلورم مخ

از اثر تلاش هاي صادقانه و مخـــلصانه هيأت رهبري وزارت معادن و صنايع بيش از صد مركـــز توليدي احـــيا و به فعاليت آغاز نموده است

از اثر مواظبت و توجه دايمي امارت اسلامي و تلاش هاي صادقانه و مخلصانه هيأت رهبري وزارت معادن و صنايع بيش از صد مرکز توليدي خورد و کلان در مرکز و ولايات کشور احياء و مجدداً به فعاليت آغاز نموده است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد امارت اسلامي افغانستان علاوه بر انفاذ شريعت اسلامي ، جاري ساختن حدود شرعي در باز سازي ص ٤

به خـــــاطر ارج گـــذاري به روان شهدا اسلام ختم قرآن عظـيم الشان در دفتر عاليقدر امير المؤمنين صورت گرفت

بخاطر ارج گزاري و خوشنودي روان پاك شهداي راه اسلام بتاريخ ۱۲ محرم الحرام ختم هاي قرآن عظيم الشان در دفتر عاليقدر امير المؤمنين و در رياست اطلاعات و کلتور ولايت کندهار صورت گرفت .

خبرگزاري آژانس اطلاعاتي باختر از شهر کندهار خبر ميدهد در مراسم ختم هاي قرن عظيم الشان حلورم مخ

انقلاب حسينی طی محافل پر شكوهی گراميداشته شد

از روز دهم عاشورا که مصادف است به يوم شهادت حضرت عالي مقام امام حسين« رض » ، طي محافل و اجتماعات پر شکوهي در مساجد و تکاياي شهر کابل از جانب هزاران تن از همشهريان (اعم از مرد و زن) کابل با جذبات پر سوز تجليل بعمل آمد .

خبرنگار هفته نامه شريعت از جريان محفليکه به همين مناسبت قبل از ظهر چهارشنبه دهم محرم الحرام سال روان در مدرسه حضرت ايت الله حجت واقع چنداول به اشتراك صد ها تن از همشهريان شهر کابل تدوير يافته بود ، چنين گزارش داد :

اگر روس، امريكا و ايران بخواهد يا نخواهد افغانستان تحت يك قيادت و يك امارت خواهد بود

محترم ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و كلتور

انقلاب حسينی ، انقلابی است كه برای هر دو طبقه مسلمان (شيعه و سنی) مُسَلم و قابل قبول ميباشد

محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» معين وزارت اطلاعات و كلتور

ما تسهيلات امارت اسلامي را در زمينه انجام مراسم مذهبي دهم عاشورا نسبت به گذشته استقبال ميكنيم

محترم حجت الاسلام الحاج سيد نواب«حيدري» يكتن از شخصيت هاي برازنده اهل تشيع

در آغاز محفل پس از آنكه محترم حجت الاسلام الحاج سيد نواب «حيدري» يکتن از شخصيت هاي برازنده برادران اهل تشيع سخنان چند پيرامون واقعه اسفناك کربلا ايراد داشت : خوشبيني برادران اهل تشيع را نسبت فراهم آوري تسهيلات خوب امارت اسلامي افغانستان در قبال انجام مراسم مذهبي چنين اظهار داشت : ما تسهيلات امارت اسلامي را در زمينه انجام مراسم مذهبي دهم عاشورا نسبت به گذشته استقبال و قدرداني مينمائيم.

سپس محترم ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور و محترم مولوي عبدالسلام «حنيفي» معين وزارت معارف باالترتيب پيرامون شخصيت عظيم الشان ، مجاهد بزرگ صدراسلام حضرت امام حسين « رض » به تفصيل صحبت نموده اضافه داشتند : امروز مردم مجاهد و جهاد پرور افغانستان حاضر هستند که بخاطر اعمار کشور و تقويه حکومت مرکزي در افغانستان به الهام از حضرت امام حسين « رض » دنباله رو راه پاك آن حضرت « رض » بوده ، در مقابل مفسدين و ظالمان عصر همچون آن بزرگ مرد اسلام قرباني بدهند.

هکذا آنان ضمن سخنراني حلورم مخ

که بنديزونه ختم نشي معاينه كـــوونـكي به وشړو او د امريكـــا پر خـــلاف به د جـــنگ اعـــلان وكـــړو

د عراق د جمهور رئيس مرستيال ياسين رمضان

بغداد : د نړيوالو خبري منابعو د ورکړل شويو رپوټونو له مخي ويل کيږي چي : د عراق د جمهور رئيس مرستيال ياسين رمضان خبر داري ورکړي دي چي ملگري ملتونه دي دعراق التي ماتوم ته ژر تر ژره ځواب ووائي.

هغه ويلي دي چي که امنيت شورا د عراق خبرداري ته ژر ځواب ورکړ نو عراق به خپل التي ماتوم عملي نکړي. که داسي ونه شي نو عراق به د وسلو پلټونکي وشړي او د امريکا پر خلاف به د جگړي اعلان وکړي. ياسين رمضان چي د عربو سياستمدارانو او کار کوونکو ته يې وينا کوله زياته کړي ده چي امنيت شورا دي په دي پوه شي چي وخت ډير کم دي او بايد د امنيت شورا ژر تر ژره بنديزونه ختم کړي .

د يلتسين ځانگري استازي په گـــروژني كــي وتښتول شو

گروزني : د چيچنيا د جمهوريت لپاره د روسيي د جمهور رئيس بوريس يلتسين ځانگري استازي پرون په دغه جمهوريت کي تښتول شوي دي چي د پيدا کولو هڅي يې جاري دي د چيچين حکومت د يلتسين د ځانگري استازي په اړه د خبرو ورکوونکي لپاره د ۱۰۰۰۰ ډالرو انعام ورکولو اعلان کړي دي. څلورم مخ

د منځني ختيځ په هكله د لندن مذاكـــرات ناكـــــام شول

لندن : د منځني ختيځ د سولي د پروسي د بيا را ژوندي کولو لپاره ډيري هڅي رواني دي.

د وروستيو هڅو په لړ کي په لندن کي د اسرائيلو د صدراعظم نتن ياهو او د فلسطينيانو د مشر ياسر عرفات تر منځ د تولني بيلراو البرايټ په منځگړيتوب سره خبري وشوي . ول کيږي چي د لندن مذاكرات د منځني ختيځ د سولي د پروسي په پرمختگ کي ناکام شول. د هغي اصلي علت دا دي چي نتن ياهو د فلسطينيانو له سيمو نه د خپلو عسکرو د په شا تگ خبره نه ده منلي همدغه څلورم مخ

امريكـــا دډاكـــتر عبدالقدير خان په لابراتوار باندي دوه كاله بنديز ولگاو

واشنگټن : د نړيوالو خبري منابعو د ورکړل شويو رپوټونو له مخي ويل کيږي چي : امريکا د پاکستان د نوميالي ساينس پوه ډاکټر عبدالقدير خان په لابراتوار باندي دوه کاله بنديز لگولي دي.

دغه بنديزونه د اپريل د مياشتي له ۱۷ نه پيل شوي دي په دغه لابراتوار باندي د غوري مزائيلو له جوړيدو نه پس ددي څلورم مخ

از اثر ريزش بارانها در حدود بيـــست قريه در ولسوالي سوري ولايت زابـــل خـــساره مند گرديد

آسيب ديده گـــان به كـــمك هاي عاجـــل نياز دارند

در حدود بيست قريه ولسوالي سوري ولايت زابل اخيراً از اثر ريزش بارانهاي شديد و سرازير شدن سيلاب ها خسارمند گرديده است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : از اثر سرازير شدن سيلاب هاي شديد صد ها جريب زمين زراعتي و باغات ولسوالي سوري از بين رفته و منازل رهايشي بيش از ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په باميانو كي خو د مور زامـــن او په غوربند كي د ميري زامن هم نه دي ؟

د باميانو ، غوربند او شاوخوا سيمو مظلوم او ځوريدلي هيوادوال د بي رحمو او ظالمو مليشو په محاصره کي په نفس رسيدلي دي ، نور ظلمونه خو لا پريږده که په سيمه کي يا له بهر نه څه خوراکي توکي يادواگاني وليدل شي نو سمدستي بي ظالم ټوپکيان د خوارکيانو له خولي او لاس نه په زور سره وړي ، که دا يو ثابت واقعيت نه واي نو د افغانستان اسلامي امارت به په هزاره جاتو کي ميشتو خپلو هيوادوالو باندي د لارو بندولو سوچ قدري هم نه ؤ کړي، مگر په سترگو بي ليدل چي د خوراکي توکو او د ژوند نورو ضرورياتو بهيرونه هلته ځي ، خوارکي هيواد وال په خوارو سترگو ورته گوري چي د ټوپکيانو په گودامونو کي خوندي کيږي ، ملگري ملتونه چي ددغو هيوادوالو له غمه ځان مړ بولي مونږ يې ډيره ډيره مننه کوو خو چي بيا د سيمي د هغه بل اړخ (غوربند، بغلان، کندز او ورته سيمو) هيوادوال له سره نه يادوي او ځان بي ناگاره نيولي وي نو سړي هك حيران پاتي شي چي هلته بي د مور زامن دي او دلته بي د ميري زامن هم نه بولي، ايا دا خواران بشري حقونه نه لري؟

که دا بي گناه وي چي د افغانستان له اسلامي امارت سره بي ملاتړ کړي وي نو دغه گناه خو د هزاره جاتو مسلمانانو هم کړي ده چي دوهم مخ

مولوي گل عالم كه به جرم انتـــــقاد عليه سياست هاي ضد مردمي و ضد اســـلامي مسعود زنداني گرديده بود رها گرديد

مولوي گل عالم بعد از وساطت موي سفيدان محترم از زندان مـــســـعود در پنجشير اخيراً آزاد گرديد.

مولوي گل عالم ضمن ابراز مخالفت شديد با سياست جنگجويانه و ضد مردمي مسعود اخيراً سياست هاي وي را به باد ص ٤

ســـنگ تهداب يك محراب مسجد جامع در ولسوالي انجـــيل ولايت هرات گذاشته شد

سنگ تهداب يك محراب مسجد جامع بتاريخ ۱۰ محرم در مربوطات ولسوالي انجيل ولايت هرات گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر از هرات خبر داد : در محفليکه بهمين مناسبت در ص ٤

به اسيا كي تر ټولو لوي تروريست هيواد هند دي

پروفيسور طاهر قادري

لاهور : د تر لاسه شوي خبر له مخي ويل کيږي چي : د پاکستان د عوامي اتحاد رئيس پروفيسر ډاکتر محمد طاهر القادري ويلي دي چي هندوستان به اسيا کي تر ټولو لوي دهشت گرد ملك دي او د هند سره د يهودانو پوره ملگرتيا شته . هغه د يو کشميري بلاوي سره د کتني په وخت دغه څرگندوني کړي دي. څلورم مخ

كار انتقال جريان برق به ولايت هلـــمند به شـــدت دوام دارد

کار انتقال جريان برق به ولايت هلمند به شدت دوام دارد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : از اثر تلاش هاي صادقانه مسوولين امور رياست برق و مواظبت و توجه دايمي مسوولين څلورم مخ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ پهپاکستانکی(۳) کلدارئ
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کي :دطالبانونمایندگیټیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۳۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

هره شپه پروردگار جل جلا له ته تضرع او زار ي کوي چي یا الله! د ظالمو توپکیانو له شر نه مو ژروژغوره او د اسلامي امارت د عدل، امن او اسلامي نظام سپین بیرغ ژر تر ژره زموږ په بامونو او دیوالونو و رپوه»

د ملیشو له مشرانو سره یو ځاي د ملگرو ملتونو د اداري هم دا یوه ناره وه چي : « هله په هزاره جاتو باندي اسلامي امارت لاري بندي کړي دي، هله قحطي راغله، هله دومره کسان، خداي جل جلاله دي نه کړي، له لوږي نه مړه شول هله ... هله ...»

د انصاف څښتنان کتونکي په دي باور دي چي ملگري ملتونه هم د مخالفینو غوندي د افغانستان په اسلامي امارت پسي هسي ناروا تبلیغات کوي ، دا ځکه چي د اسلامي نظام په عملي کولو باندي ملگري ملتونه او ټوله غربي نړي په غوسه (غصه) دي، ځکه نو دا هم وایي چي طالبانو بشري حقونه تر پښو لاندي کړي دي، ښځې یي سرتر پښو پوري پټي کړي دي،په خلکو بېري پریدي، خلك لمونځونو ته په زوره رابولي او ... په داسي حال کي چي دا ټول اسلامي شعایردي کتونکي وایي : دغو سي خبره نه واي نو بیا ځرنگه د بامیانو د لوږي له غمه مړه دي، د غوربند، بغلان، کندز او نورو سیمو یادونه قدري هم نه کوي ؟ که په مزار کي یي هر څه لوټ شي، کارکوونکي یي د مرگ له تهدید او خطر سره مخامخ شي لا بیا هم هلته د خپل کار په دوام باندي ټینگار کوي، د پیریانو غوندي ، بي درکه، بي مقامه د رباني پاچایي په رسمیت پیژني او د افغانستان کرسي یي د هغه په واك کي کلکه ساتلي ده؛ مگر په کندهار او د اسلامي امارت په نورو ځایونو کي په معمولي شخړې سره سملاسي کار کوونکي راباسي او دفترونه تړي !! سره له دي چي هلته د بهرنیو کارکوونکو لپاره پوره امن او داډدي او هر څه بي خوندي وي.

اوس نو د افغانستان اسلامي امارت د خپلو هیوادوالو د ستونزو د لیري کولوي لپاره ملگرو ملتونو ته اجازه ورکړه چي د هیواد د هزارجاتو سیمو ته خوراکي توکي، دواگاني او نور ضروریات ورسوي مگر په دي شرط چي هلته ارو او بي وزله هیوادوالو ته ورسیږي او د ظالمو ملیشو په لاس کي ونه لویږي. چي بیا د جگړي د اوږدولو لپاره کار ورڅخه واخلي او بل دا چي غوربند او نورو په محاصره کي سیمو ته یي هم ورسوي؛

په دغي اجازي سره د مخالفینو هغه پلمه په اوبو لاهو شوه چي د اسلام اباد د سولي له خبرو اترو نه یي په دغه پلمه ډډه وکړه او هم د ملگرو ملتونو د تبلیغاتو لپاره په موادو کي یو څه کمښت راغي؛

اوس به وکتل شي چي ملگري ملتونه د افغانستان له اسلامي امارت سره په خپله رویه کي مثبت بدلون راولي او که به نوري پلمي ولټوي ؟

په دي برسیره د افغانستان اسلامي امارت د تماس د گروپ د خبرو اترو په وخت کي چي د خبرو اترو د بریالیتوب لپاره څومره تنازلات کړي دي له ملگرو ملتونو نه د انصاف غوښتنه دا ده چي د مخالفینو د لجاجت او سر ټمبگي په پام کي نیولو سره په هغو ټولو تنازلاتو باندي اصولي حساب وکړي او د خبرو اترو له لاري نه د جگړي د پاي ته رسولو په هکله د افغانستان د اسلامي امارت اخلاص نړي ته په گوته کړي.

د کلکتي خبر

یادونه

د تیري گڼي د لیکني په دوهمه کرښه کي (۷۰۰) په (۷۰۰ ملیونه) تصحیح او داسي ولوستل شي : خبر دي چي امریکي د تیر یوه کال په پوځي تمریناتو کي (۷۰۰ ملیونه) گولي ویشتلي ...

همدارنگه ځیني نوري طباعتي تیر وتني هم لري چي ښایي درانه لوستونکي ورته پام ولري

د مي لومړي ورځ د کارگرانو ورځ پیژندل شوي، په دغه ورځ به د افغانستان سرو کمونستانو پخپلو مظاهرو او غونډو کي شعارونه ورکول : کارگران جهان متحد شوید» د زرنگار پارك په مظاهرو کي به لدغو شعارونو سره پورته پورته غورځیدل، د افغانستان کارگرانو ددغو چیغو او شعارونو حقیقت هغه وخت ولید چي د ثور له خونړي کود تاوروسته سره کمونستان د قدرت په گدي کیناستل او د کارگرانو او خواریکښو په ستوني یي چاړه کیښوده.

وروسته خبره دي حد ته ورسیده چي د یوه کمونست لوړ رتبه افسر په وینا د دوي پر ضد هغه خواریکښ او کارگر هم را پاڅیدل چي دوي ورته د نورو ځمکي د ملکیت سره سندونه ورکړي ؤ، دي وایي د مخالفینو (مجاهدینو) د ځینو وژل شویو او نیول شویو کسانو په جیبونو کي دغه سندونه ما خپله لیدلي چي موږ ټولو حتی د شوروي اتحاد ملگرو ته د حیراني خبره وه .

په ۱۸۸۵ کي چي د امریکي په شیکاگو کي د کارگرانو اعتصابي غونډه په کوم تشددو ځپل شوه له هغي وروسته د مي لومړي نیټه د کارگر د ورځي په نوم یاده شوه او کمونستانو ته د سیاسي دکانداري ډیر ښه مارکیت په لاس ورغي .

د کابل په مظاهرو کي به یي د کارگرانو لوي لوي انځورونه پورته کړي و او د هغوي د حقوقو د دفاع شعارونه به یي ورکول، د کارگري انقلاب وعدي، د کور، کالي او ډوډي شعارونه وو چي له هري خوا به بدرگه کیدل، بیرك کارمل به له خپلي پیك لرونکي خولي سره پر سټیږ خپله وینا د کارگرانو د پیوستون په شعار پیل کړه او په ساعتونو به یي د کارگر، بزگر گردانو نه تکرارول.

ده به له پخواني پادشاه سره په کتنو کي هغه ته د نړي د مترقي پادشاه لقب ورکاوه خو په مظاهرو کي به یي محصلین د مرگ بر حکومت چیغو ته هڅول.

د شوروي اتحاد له رنگیدو سره د کارگر او مي د لومړي نیټي شور او زوږ هم کرار شو، اوس دغه ورځ یواځې په عنعنوي او تشریفاتي بڼه ولمانځل شي. اخبارونه څه ځانگړي مطالب او زاړه شعرونه خپاره کړي او بس.

خو سږ کال د هندوستان په کلکته کي د مي د لومړي نیټي یا د کارگر د ورځي په اړه اخبارونو یو نادر خبر خپور کړ . په خبر کي ویل شوي چي د مي په لومړي نیټه به د هندوستان د بدلمنو ښځو ټولنه یو ستر لاریون کوي او رسماً به خپله ټولنه، منشور، مرامنامه اساسنامه او د غړیو د مسوولیتونو اعلان کوي.

دوي به په دغه لاریون کي خپله پیشه (دنده) معرزه!! دنده معرفي کوي او کوښښ به کوي چي له خپلو لمنو هغه تور داغونه

بتي پاني

شهرت ننگیال

لیږي کیږي چي خلکو له نا پوهي پري لگولي دي .

دوي د شرافت دعوه کړي او خپله پیشه یي شریفانه عمل او حلال رزق گڼلي، ښایي د هندوستان په کرنسي دانه وي لیکل شوي چي : « حصول رزق حلال عبادت ہے » ددي تعبیر دا ډول هم کیداي شي لکه د سگرټو له رنگین اشتهار وروسته چي وایي : ''خبر دار سگرت نوشی صحت کیلئے مضر ہے » دوي ټولو ته چلنج ورکړي چي حاضري دي په هغو مباحثو او مناظرو کي برخه واخلي چي د دوي د دندي او پیشي په اړه یي له خلکو سره شك او منفي ذهنیت پیدا کړي تر څو د خلکو ذهنونه روښانه شي او نور لدي ډول تنگ نظریو ډډه وکړي.

ددغه لاریون لپاره د دوي په وینا د اړیکو ځانگړي کمیټه (مهیلاسمن) خپل کمپاین ښه په درز کي چلولي او اعلان یي کړي چي په لاریون کي به « ٦۰۰ » ښځې برخه اخلي که دوي وتوانیدي چي دغه لاریون او کمپاین بریالي کړي نو بیا به د ټولي نړي له دي ډول ښځو سره اړیکي نیسي او په ټوله نړي کي به خپله پیشه یو شریفانه او روا عمل ثابتوي ، د خپلو حقوقو ساتنه به کوي او «بازار حسن» ته به نوي ښکلا او ځلا وربخښي.

هندوستان که هر څو سیکولر هیواد دي خو د بدلمنو ښځو دغه سپین سترگي ورته د زغملو نه ده، له همدي ځایه ده چي ځینو خپرونو پدي اړه توندي لیکني کړي او دغه بي حیایي او گستاخي یي د ټولني د اخلاقي ځوړتیا خطر ناك حد گڼلي دي.

د هندوستان د بدلمنو ښځو د غه کمپاین او مبارزي ته به د ښځو د حقوقو مدعیان غاړه کیږدي که څنگه ؟

آزادي چي بي جلبه شي اخلاق او انساني ارځښتونه په همدومره بیدړي تر پښو لاندي کیږي، کله چي د آزادي پولي او سرحدونه ونه ټاکل شي اخلاقي معیارونه ضرور رالویږي ، هلته فحشا عزت او شرافت گڼل کیږي هلته د ناروا د جواز هڅه پیل شي او هغه وخت د حلالو او حرامو توپیر له منځه ځي.

یوه پوه څه ښه وي : بي له قیده آزادي د ټولنو لپاره لکه خواړه زهر داسي دي، بي جلبه آزادي هغه زهر دي چي د پتاسو په بڼه وراندي کولي شي، مطلقه آزادي هیڅ جواز نلري د بي قیده او بي جلبه آزادي ارمغان هغه دي کوم چي د هندوستان په کلکته کي د بدلمنو ښځو ټولنه د هغي لپاره هڅه او کمپاین کوي.

کورنی فقه

اوومه برخه (۲۹)

په اسلام کي د نسل د مخنیوي حکم

قاضي محمد حسن "حقیار"

د حمل اخستلو د مصنوعي لاري حکم

اسلام د نسب په ساتنه سخت تاکید کوي او دایي په کلکه منع کړیده چي د یو کس نطفه بل ته منسوبه شي په اسلام کي د زنا د حرمت او کبیره گناه گرځولو نه یو هدف همدا دي چي هیڅوك باید خپله نطفه بي ځایه استعمال او یا د بل چا له نطفي سره گډه نه کړي یا په بل عبارت اسلام نه غواړي چي څوك دي خپل تخم د بل په پټي کي وشیندي . اسلام که د حمل په موده کي له کومي ښځي سره (چي له حمل پرته ورسره نکاح روا وي) نکاح حرامه کړیده لامل یي دي چي په یو وخت کي باید دوه نطفي په یو رحم کي یو ځاي شي همدا راز اسلام که له کومي کونډي ، طلاقي شوي یا د بل کوم شرعي لامل په واسطه له میړه څخه د جدا شوي ښځي سره له نطفي نه د رحم په پاکوالي له یقیني کیدلو د مخه (د حیض له تیریدلو وړاندي) نکاح منع کړیده لامل یي همدا دي چي د یوه تن نطفه بل ته منسوبه نه شي. اسلام تبنیت (څوك په زوي توب نیول) هم د همدي لپاره حرام کړل چي د یوه تن اولاد بل ته منسوب نه شي .

نو د پورتني وینا په رڼا کي ویلي شو چي د حمل اخستلو مصنوعي طریقه حرامه ده معني دا چي کومه ښځه د خپل میړه له نطفي پرته د بل چا نطفه په مصنوعي ډول خپل رحم ته ننباسي، دا ډول عمل حرام دي او د هر چا لپاره حرام دي دا حکم د ناواده انجلي او واده میرمن لپاره یو دي یعني که کومه انجلي واده شوي نه وي او خاوند ونلري نو ددي لپاره هم روا نده چي د نارینه نطفه په مصنوعي ډول د حمل اخستلو لپاره خپل رحم ته ننباسي او که کومه میرمن واده وي نو دیته هم روا نده چي د پردي سړي نطفه په مصنوعي ډول خپل رحم ته ننباسي که څه هم دا ښځه خپله شنډه وي او یا یي له دي خاوند نه اولاد نه کیږي. اوس دا کار ډیر رواج شوي دي حتي په ځنو اسلامي هیوادونو کي هم دا ډول مرکزونه پرانستل شوي دي چي هلته د نارینه نطفه په مخصوصو وسایلو کي ساتل کیږي او کومه ښځه چي وغواړي چي په مصنوعي ډول حمل واخلي نو همدي مرکز ته ورشي نو د پیچکاري یا نورو وسایلو په واسطه یي هماغه نطفه رحم ته داخل کړي.

دا کار لکه چي استاد شلتوت وایي لویه گناه د نفرت وړ جرم حتي په وبال کي له زنا سره برابره ده ځکه چي د زنا نتیجه هم داده چي د یو پردي سړي نطفي ته په خپل رحم کي ځاي ورکړل شي او په دا ډول عمل کي هم د پردي سړي نطفي ته په خپل رحم کي ځاي ورکول دي.

نو دا ډول عمل حرام دي او ټول مسلمانان باید تري ځان وساتي.

د تاریخ سریزه او لور

ولي احمد «فرهاد» د امریکا د ویرجینا د ایالت څخه

کله چي د طالبانو اسلامي ملي غورځنگ ځرگند شو په افغانستان کي د نوي تاریخ سریزه وه په کال ۱۳۷۱ کي ، یوه توپکوال په لویه لاره کي له یوه موټروال څخه پیسي وغوښتي.

موټروال ورته وویل : په دواړو سترگو پیسي درکوم خو ته هم زما یوه ومنه :

توپکوال وویل : ښه ده ووایه .

موټروال وویل : زما دا خوله په سوك ووهه .

توپکوال وویل : ولي د څه دپاره ؟

موټروال وویل : ددي دپاره چي ما په دي خوله ویل : خدایه مجاهدین بریالي کړي (په داسي حال کي چي ټول مجاهدین توپکوالان او لارنیونکي نه ؤ خوځښتي مجاهد ډوله کسانو د کړو وړو په وجه بي لاري متځته راغلي).

په دغسي تیاره کي طالبان راغلل او خلك یي له توپکیانو خلاص کړل.

کله چي طالبانو په قندهار کي(۱۳۷٤، خپل فعالیتونه پیل کړل امیر المومنین ملامحمد عمر مجاهد د تصمیم نیولو ، قوماندي او لارښووني استعداد وښود او د هیواد یوازني منسجم قوت یعني طالبان مینځ ته راغلل خلك یوه شول دا کاروان تر مزله رسیږي (انشاء الله)

ددغي هیلي دپاره دوه دلیله شته، لومړي: په افغانستان کي عسکر، پولیس، رڼ فکر، د پوهني لیکي یو په بل پسي راغلل لاړل. طالبان وروستي خلك دي ، له دوي وروسته څوك نشته نو ځکه موضوع یوه نړي حالت ته رسیدلي دوي یعني طالبان او هیوادوال باید دي خبري ته پاملرنه ولري.

دوهمه خبره داده چي وروسته له دریمي هجري پیړي بیا تر اوسه افغانستان پنځه واري لویدلي او پنځه واري پاڅیدلي دي له طاهریانو وروسته صفاریان پاڅیدل چي ساکان اوسکزي ؤ ، یعقوب لیث صفار چه د طاهریانو وروستي پادشاه محمد طاهري ونیوله ده یي پوښتنه وکړه چه ستاسو د دولت د خرابیدولیل څهؤ؟

محمد په ځواب کي وویل : «د شپي ویښ اوسیدل او د ورځي ویده کیدل »

یعني هر کله چي د دولت مسوول خلك شپه په عیاشي تیره کړي او د ورځي تر ډیرو بیده وي هغه هیواد نړیږي. کله چه دغه ناروغي په صفاریانو ولگیده هغوي له منځه لاړل ، غزنویان راغلل وروسته هغوي هم په همدغه مرض اخته شو ورك شول، غوریان را ځرگند شول هغوي هم په همدي بایلو ده، د مغلو بلا راغله ډیره موده پاتي شول توفان په توفان پسي راغلي، چنگیز، هلاکو او گوډ تیمور ...

په نهمه هجري پیړي کي میرویس بابا د خپلواکي ځراغ بل کړ ځکه مسلمانانو گاونډیانو تیاره جوړه کړي وه لکه اوس ، احمد شاه بابا په همدغي پیړي کي اسلامي امپراتوري جوړه کړه چه په پاي کي روسان راغلل کله چي افغانستان د انگریزانو له ډیرو جگړو خپله ملاته وه سمه کړي .

اوس چي په شمال کي څه گډوډ قوتونه پاتي دي وسله او پیسه یه روس او ایران ورکړي خو خلك ورسره نشته په هغه څه کولاي نه شي نو د افغانستان د شپږم ځل پاڅیدو واردي .

اوس چه مهمه تاریخي مرحله راغلي د شمال جنوب تجارتي لاري خلاصیږي او د افغانستان له لاري تیریږي د اسلامي افغانستان دپاره په کار دي چه د پاکستان له اسلامي دولت سره د بندري لاري خبره د اسلامي ورورولي په توگه وکړي .

څو د (غوري راکت) اسلامي قوت پیاوري شي د شهاب الدین غوري او غیاث الدین غوري ورورولي جوړه پاتي شي او دا به د پاکستان او افغانستان وروري ډیره ټینگه کړي زه د طالبانو غورځنگ د افغانستان د نوي تاریخ سریزه بولم او دغه بحري لاره یي لور بولم چه په دي توگه یو اسلامي تاریخ جوړیداي شي .

گورستان

که بادشاهان دي که درویشان دي
که په رامنځ کي ښه ښه ځوانان دي
که په زرګونو کالونو پایي
عاقبت واړه د ګورستان دي

خوشحال خټک

د نن ځوانان د سبا مشران

صفحه اختصاصي جوانان

وروستي ګذار!!

محمد نذیر «احمدزي»

ما او تا خو دا خیال کاوه چي د سره ښکیلاك له پرزیدو او د هغوي د ترپوال نړي خور نظام له پو پناه کیدو سره تور د سلګیو ،ژګیرویو، وینو، اوښکو ، ژړاوو، ویرونو او ناتارونو دوران تیر شوي موږ به یو، خوښي اوخوشالي به وي، د اسلامي نظام زړه بوږنوونکي وړمي به زموږ ټول غمونه او دردونه په کرار کړي. خوا ارمان چه داسي ونه شو د طاغوت پلویانو د قابیل لښکرو او د ابلیس لارویو ماو تا په کرار پري نښودو هغوي زما او ستا غوښتني ، هیلي، ارمانونه او هڅي د خپلي نیستي د تندریز غږ په شان تعبیر کړي.په داسي حال کي چي پښي بي ماني، سترګي بي ړندي او لاسونه بي هم غوڅ ژ په وروستي سلګي کي هم د وروستي ګذار په نکل کي شول هغوي په دي ښه پوهیږي چه د دوي ملامانه او کیسري بي شنندل شوي او په دي شتهکو هیڅ هم په لاس نه ورځي خو بیا هم حیلو مړونه خپل اخلاص !! او وفاداري ثابتوي. نو اي مجاهد طالبه! یا توره مسلمانه! او غیرتي افغان ځوانه ! ما او تاته هم نه ښایي په داسي حال کي چي الهي نصرت، ایماني قوت او ولسي حمایت راسره دي د غیرت په تله کي له خپلو ښمنانو نیکونو څخه کم راشو ، راولاړ شه ، ملاوتړه یو ځل بیا توري ته لاس کړه، مخامخ ور روان شه د هغه چا په لور چي زموږ د عقیدي، خپلواکي، ملي پووالي ، خاوري، ورورولي، خداي راکړي ښتو او تل پاتي ویاړونو دښمنان دي. اوس فقط یوه ګذار ته اړتیا ده چي د هغوي نیستي څیري د تل لپاره نیستي شي.

هوا یوه ګذار ته خو پاخه ګذار ته ... نو مخکي له دي چي ناوخته شي را پاڅیږه او د وروستي ګذار په تکل توره تر ملا او له اسلامي سنګر څخه ساتنه وکړه .

حکایت

یو سړي په سفر روانیده نو له حکیم نه یې پوښتنه وکړه چي له چا سره ملګرتیا کوم او له چا نه ځان وساتم ؟

حکیم ورته وویل : چي له اته رنګه سړونه په ډېږه ګرځه . اول هغه چي احسان نه مني، دویم هغه چي بې سببه قهر ورځي ، دریم هغه چي له آخرت نه بې پرواوي، څلورم هغه چي ټګ وي، پنځم هغه چي دروغ وایي. شپږم هغه چي شهوت پرست وي، اووم هغه چي بې حیاوي، اتم هغه چي بې هیڅه په خلقو بدګمان کوي. او د اته ډوله سړو دوستي پسي کده ګرځوه، اول هغه چي په نیکي قایل وي. دویم هغه چي له اشنا نه په سختي کي لاس نه اخلي، دریم هغه چي ویل او کول یې دواړه ښه وي څلورم هغه چي له کبره ځان ساتي، پنځم هغه چي عقل یې د قهر غالب وي. شپږم هغه چي بې طمعي سخاوت کوي، اووم هغه چي ادبناك وي، اتم هغه چي دوست د صالحانو وي. هغه سړي چي لاړ شي او په دي خبرویي عمل وکړ په ډیره خوشحالي سره له سفره بیا راغي او له ناکاره خویونو بالکل خلاص شو .

عقوبت قتل از دیدگاه شرع

فهیمه «حکیم احمدزي»

حیات حق مسلم هر انسان و نزد بنده گان یك ودیعه الهي است هر فرد از افراد بشر حق دارد زندگي کند و از تمام نعمات مادي و معنوي ایکه خداوند«ج» براي بنده گانش ارزاني داشته است مستفید شود و بالمقابل شکر این نعمات را بجا آورده و وظیفه ایماني و شرعي خود را در مقابل پروردگار خویش بجا آورد.

عبادت خداوند«ج» پیروي از دستورات شرعي و تطبیق این دساتیر شرعي در منصه عمل از جمله وظایف و مسوولیت هاي بس مهم ما بنده گان خدا«ج» است که تخلف و سرکشي از این دساتیر شرعي مجازاتي را در قبال دارد که آن عبارت از عقوبات شرعي است . قتل یك انسان از دیدگاه شریعت جنایتي است در حق العبد که مجازات آن قصاص میباشد زیرا که در اثر این جنایت حیات یك انسان سلب و تجاوز در نفس صورت میگیرد . زمانیکه خداوند«ج» حق حیات را براي بشر ارزاني گردانید. شرعاً صلاحیت سلب این حق نیز از جانب پروردگار عالم صورت میپذیرد. و هیچ فرد از افراد بشر صلاحیت سلب این نعمت الهي را از انسان نداشتند و ندارد.

قبل از اینکه بحث خویشرا پیرامون مجازات قتل از دیدگاه شریعت اسلامي آغاز کنیم لازم است معني و مفهوم جرم و جنایت را بدانیم .

کلمه جرم به معني خطا و گناه است و جرم از نظر شریعت اسلامي عبارت از ممنوعات شرعي است که مجازات آن حد و یا تعزیر است باید دانست که بین جرم و جنایت از نظر فقهاي اسلامي فرقي وجود داشته و آن دو با هم مترادف نیستند زیرا که جنایت مختص به تجاوز بر نفس و یا اعضاً بدن انسان دانسته شده مانند قطع، جرح و ضرب چنانچه مفهوم جرم و جنایت از نظر قانون وضعي نیز با هم تفاوت داشته جنایت خاص و جرم عام است . در شریعت اسلامي مجازات قتل عمد و جرح قصاص تعین گردیده است و معني قصاص مماثلت و مساوات است یعني قطع و جرح نمودن عضوي از اعضاي بدن جاني به مثل قطع و جرحیکه به اعضاي بدن مجني علیه از طرف جاني صورت گرفته است لازم است که تطبیق قصاص بدون زیادت بعمل آید و مماثلت در محل و مساوات در صحت و کمال بین هر دو اعضا ضرور است هر دو عضو از نظر صحت و کمال با هم مساوي باشند لذا دست که داراي صحت است در مقابل دست فلج شده قصاص نمیگردد و دست کامل در برابر دست ناقص قصاص نمیگردد زیرا دست که انگشتان کامل دارد در برابر دست که انگشتان آن کامل نباشد قصاص نمیگردد زیرا مساوات در آن وجود ندارد چنانچه خداوند«] » میفرماید :

ترجمه : فرض گردانیدیم بر اوشان در کتاب که نفس عوض نفس، چشم عوض چشم بیني عوض بیني ، گوش عوض گوش، دندان عوض دندان و عوض جراحات مثل آنست .

بصورت عموم قتل از نظر جمهور فقهاي اسلامي به سه نوع تقسیم بندي گردیده است . قتل عمد، قتل شبه عمد و قتل خطا که در قتل عمد مرتکب قصد قتل یك انسان معصوم را میکند که مجازات آن قصاص است چنانچه حضرت رسول اکرم«ص» میفرماید :

ترجمه : « نیست توبه براي قاتل که مومن را قصداً کشته باشد » در قتل شبه عمد که قاتل قصد زدن کسي را توسط چوب، سنګ و غیره داشته باشد نه قصد کشتن یك انسان را ولي مجني علیه در اثر همین زدن بقتل برسد که این فعل نه خالي از عمد و نه خالي از خطا میباشد.

با این دلیل قتل عمد گفته نمیشود و قصاص در آن واجب نیست مجازات قتل شبه عمد در حقوق العبد از نظر شریعت اسلامي دیت است و اندازه دیت یکصد رأس شتر است . امام ابو حنیفه«رح»، امام شافعي «رح» و امام احمد «رح» براي اثبات نظر خود ها به فرموده، حضرت رسول الله «ص» استناد نموده اند که فرموده بودند « اگاه باشید مقتول شبه عمد که ذریعه چوب، عصا ، سنګ بقتل میرسد دیت آنها یکصد رأس شتر است » اما امام مالك «رح» نظر داشت که قتل خالي از دو حالت نیست یکي قتل عمد و دیګري قتل خطا و قسم سوم از نظر وي دیده نمیشود زیرا یا قاتل قصد قتل مقتول را میکند و یا اینکه قصد کشتن مقتول را نداشته باشد اگر قاتل قصد کشتن شخصي را داشته باشد قتل عمد و اگر قاتل قصد کشتن مقتول رانداشته‌باشدقتل‌خطااست.

فقها ، جمهور میگوید که قتل خطا نیز از دو حالت خالي نیست یکي اینکه خطا در فعل صورت گیرد و دیگر اینکه خطا در قصد صورت گیرد و مثال حالت اول مثلاً شخصي شکار یا پرنده را هدف قرار میدهد اما بنابر خطا در هدف مرمي به شخص اصابت میکند دوم اینکه شخصي قصد کشتن مشرکي را میداشته باشد اما بنا بر خطا مسلمان مورد هدف قرار میگیرد که چنین عمل را در قبال همین شخص مسلمان خطا در قصد گویند. در قتل خطا بالاي قاتل دیت و کفاره لازم میگردد. لازم بیاد آوریست که شروط وجوب که قصاص را لازم میسازد عبارتند از :

۱- مقتول باید انسان معصوم الدم باشد .
۲- قاتل باید عاقل باشد .
۳- قاتل باید بالغ باشد
٤- قاتل باید مختار باشد.
٥- در دین تساویت وجود داشته باشد

چنانچه رسول اکرم«ص» میفرماید : ترجمه « با خبر باشید که قتل نکنید مؤمن رادر بدل کافر » .

در خاتمه قابل ذکر میدانیم که قصاص در وقت جاهلیت قبل از اسلام طوري اجرا میشد که همه قبیله، قاتل در چوکات قصاص داخل میشدند الا کسانیکه در محضر عام اعلان برائت مینمودند از همین سبب بود که جنګ از یك خانه به قبیله ها انتشار میافت و باعث از بین رفتن نظم اجتماعي میگردید . ظهور دین مقدس اسلام نه تنها نظام کهنه را منسوخ اعلان داشت بلکه چنان الگوي را براي بشریت در تمام ساحات زندگي اجتماعي بیان داشت که تا بشر حیات است سعید و خوش خواهد بود.

ژړده

ډاکټر باز محمد «ښادمن»

هغه تنکي ګلان چي د لومړي ځل لپاره یې د امید ځولي د ژوند وڅپو ته پرانستي دي او د ټولني لپاره د ښکلا ، ښایست او خوشبویي سبب کیداي شي د خزان په ازغنو ګوتو دومره زحمتونه اړ شوي دي چي د ملاتیرونه یې کاږه او سرونه یې مړاوي ښکاري.

هو! د آسیا هیوادونه اکثره غریبان دي، داسي هیوادونه کم دي کم‌تولیدل شي چي هغه دي خپله ورځني ګذاره په ښه توګه وکړاي شي. له همدي ځایه ده چي ټول تنکي ځوانان له هغو درنو کارونو سره مخامخ دي کوم کارونه چي په پر مخ تللیو هیوادو کي لوي، لوي ماشینونه نشي کړاي .

اوریدلي مي دي چي یو لیکوال د یو ځوان د مجبوري او مرض په هکله یوه کوچني مضمون لیکلي و او په اخبار کي خپور شوي و په مضمون کي یې د ځوان د مجبوري څخه علاوه د هغه ادرس هم لیکلي و د ځوان په تداوي یو لك او دیرش زره پو نده مصرف شول او هغه مصرف د لندن شهزادګي په خپله غاړه اخیستي و ، دا به نه یادو ځکه هغه توان لري. را به شو اسیا ته تاسو به اوریدلي وي چي څه موده مخکي له کراچي تر کویټي د تنکي ځوانانو لاریون وشو هغوي د درنو کارونو په ضد مبارزه کوله او دایي شعارو چي تنکي ځوانان دي له درنو کارو څخه وژغورل شي. موږ همدي لاریون ته په درنه سترګو ګورو. مګر موږ ډیر ځپل شوي یو. ډیري له استعداده ډکي ککري مو خاورو ته په ناحقه لیږدول شوي دي. له موږ اوس دا لاریون پاتي دي چي موږ خلکو ته وایو چي کارونه ډیر درانه دي زموږ تنکي ځوانان یې نشي کړاي بلکه زموږ دا غږ څوك نه اوري چي زموږ تنکي ځوانان په یوه ورځ کي په زرونو تورو خاورو ته د میلمستیا لپاره ځي او هلته په ابدي خوب ویده کیږي .

راځئ تنکو ځوانانو خپل خداي«ج» ته وژاړو او د زړه د اخلاصه اسویلي له خولي وباسو د اسلام په لار کي خپل ټول توان مصرف کړو که موږ په پوره اخلاص او ټینګه اسلامي عقیده یو موټي شو او د اسلام ضد عناصر له ځانه وشړو د هیواد په بیا رغونه کي اساسي ګامونه اوچت کړو انشاء الله ژر ده چي ځان او راتلونکي نسل له بدمرغي خلاص کړو او په لنډ وخت کي ګران هیواد له پر مخ تللیو هیوادو قوي او مخ ته کړو او راتلونکي ژوند له اسلامي شریعت سره برابر خوږ او هوسا کړو.

د چنګاښ وینه ژوند ژغوري

ژباړه : سویمن دراني

پدي نږدي وختونوکي ساینس پوهانو دا وموندله چي چنګاښ ورروسته لدي د دریابونو او ویالو یې ګښتي ژوي نه دي، د جوتژهابکین پوهنتون سیروم پېژندونکو د چنګاښ له ویني څخه یوه ګټوره کیمیاوي ماده چي لیمرس امیبوسیت لیسات (ل.ا.ل) نومیږي تر لاسه کړي ده . ددي مادي په مرسته ډاکټران کولاي شي هغه زهرجن مواد چي ځیني وخت په واکسین او نورو موادو کي د کیمیاوي موادو د تعاملاتو او یا د میکروبونو له کبله پیدا کیږي او داندوتاکسین په نامه یادیږي تشخیص کړي. ډاکټران هر ډول مواد مخکي د ستني له وهلو څخه د (ل.ا.ل) په واسطه آزموینه تر سره کوي.

د (ل.ا.ل) د لاسته راوړلو میتود ډیر اسانه دي لومړي د چنګاښ وینه په یوه ټاکل شوي اندول اخلي او چنګاښ بي لدي چي کوم زیان سره مخامخ شي په ساحل کي بیرته خوشي کیږي.

له لاس ته راغلي ویني څخه (ل.ا.ل) لاس ته راځي چي له یو شمیر نورو موادو سره د یو ځاي کیدلو نه وروسته استفادي ته تیاریږي.

اوسني لابراتوارونه (ل.ا.ل) څخه نه یواځي د واکسین او سیروم د آزمویلو لپاره کار اخلي بلکي د ویني او ادرار د اندوتاکسین اندول هم کیداي شي د هغه پواسطه تعین او تشخیص شي.

ښښتیزي ستني

د تیرو کلونو په دور کي چي زموږ په ګران هیواد د کمونستانو د علم ضد دریځ او وحشي روسانو د تجاوز له کبله د تعلیم او تربیي سالم بهیر په ټپه درول شوي زموږ یو نسل په بشپړه توګه د علم او پوهي له ډیوي څخه لري وساتل شو، د اوروتو ، ورانیو، لوږو، او د وخت د واکمن حکومت د جبر له ویري ځوانان څه هیواد نه هجرت ته اړ شول او یو شمیر د اوروتو محروقات (د سونګ مواد) وګرځیدل او یو شمیر نور چي د وتلو دامکاناتو په نه لرلو سره دلته پاتي وو د منفي تربیت په نا سالمي فضا کي خرافاتو ته سوق کړل شول.

اوس چي اسلامي نظام حاکم دي او د لوي خداي«ج» په نصرت د اسلامي امارت تر کنترول لاندي سیمو کي بشپړ امن، سوله او کراري ده او انساني ژوند ته هر راز زمینه برابره شوي ده او په ټوله معني د بدو عملونو او کړنو مخه نیول شوي زموږ ځوانان کولي شي د شرعي چوکات په دننه کي خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

په داسي حال کي چي د کمونیزم د پاتي شونو په وړاندي د اسلامي امارت له خوا جهاد روان دي او د ټولو ستونزو سره بیا هم ځوان نسل ته د کار ، عمل، زده کړي د چارو ټول اسباب برابر کړ شوي دي تو ځوانانو ته پکار دي چي له دغه فرصت نه په استفادي سره خپل ځانونه د کمال درجي ته د رسیدو په مقصد چمتو او د راتلو په مقصد له هاند او هڅو څخه کار واخلي دا ځکه چي د یو هیواد ښښتیزي ستني ځوانان دي د طالبانو د اسلامي تحریك اساسي حجم ځوانان تشکیلوي هغه ځوانان چي په اسلامي روحیه مدرسو کي روزل شوي دایي تولو ته وښوده چي په رښتیا سره پاك نفسي، او په خداي«ج» او وطن مین ځوانان کولي شي حتی د کم کسیت په درلودلو سره هم غرونو ته ډډه ورکړي او خپل ولس د نیکمرغي په درشل کیښوي او یوي ښکلي راتلونکي ته یې د ډېري مینې او هیلو په لرلو سره سترګي په لار وساتي.

نو ګرانو ځوانانو!

د ژوند په هر پیراوزمان کي دي نه مه کینئ چي یو څوك دي راشي او تاسي له لاسه ونیسي تر څو د رڼا لوري در په ګوته کړي بلکي تاسو پخپله د رڼا په لټه کي شي څیړني او ځیرتي وکړي او خپل ځانونه مو پخپله وژغوري.

من براي خود تابوت میشوم

ن . لاهر

عمریست همچو کوه، ګران جاګزین شده ام
درین مکان و میبرم حسرت به سایه ام
کو هر طرف رود.
و منم جاګزین مدام
با لحظه هاي خود همه پدرود میکنم
من خسته ام دګر
زین ګونه زنده ګي

دریا!
تو هم خموشي و من هم خموش لیك
اینجا کسي براي کسي هدیه میدهد
هر سال چوچه هاي مرا وقتي کودك اند.
من هم چنان خموش تماشایشان کنم
تکرار بسکه ګشته تصاویر و سالها
لبریز ګشته ام ز تماشا و دیدنم
دریا!
مرا نه خویش و نه قوم است تا غمم
به او کنم حکایت و دل را تهي کنم
من جز پتر کسي نشناسم به عمر خود
بتنهاست او که مرثیه هاي شهادتم
را ساز میکند
در ګوش من بهار
فرداي دګري
دانم که در برابر پاهاي خویشتن
تابوت میشوم

انقلاب حسیني طي محافل پر شکوهي ...

هاي شان درين اجتماع، پالیسي امارت اسلامي افغانستان را در قبال برادران اهل تشیع و انجام مراسم دیني و مذهبي آنان به وضاحت تشریح داشته : امارت اسلامي افغانستان را امارت همه اقوام متدین و مسلمان ساکن در کشور خواندند.

محترم «متقي» ضمن صحبت همه جانبه، شان درین اجتماع اظهار داشتند :

امروز جاي بس افتخار است که بعد از گذشت چندین سال در وطن دو باره برادران اهل تشیع و تسنن تحت یك قیادت و یك امارت در آمده ، در فضاي امن و اخوت بیاد بود و گرامیداشت از مجاهد بزرگ صدر اسلام، نواسه فخر موجودات «ص»، حضرت امام حسین «رض» دور هم جمع آمده اند.

محترم «متقي» در قسمت دیگر از صحبت شان گفتند : ملت مجاهد افغان دیگر تحمل و برداشت این را ندارد که یك قسمت کشور هم در اختیار بقایاي کمونست و ظالمان باشد. امروز اگر روس،امریکا و ایران بخواهد یا نخواهد افغانستان تحت یك قیادت و یك امارت خواهد بود .

دراینجا دین خدا و شریعت غراي محمدي«ص» جاري و نافذ بوده ، اهل تشیع و تسنن یکجا با هم مثل برادر زندگي خواهند داشت و بالآخره هیچ نیروي نمیتواند که افغانستان واحد و یکپارچه‌رااز‌هم‌جدابسازد.

محترم «متقي» پالیسي امارت اسلامي افغانستان را در قبال برادران اهل تشیع کشور اینگونه تشریح نمود : امارت اسلامي افغانستان از حقوق حقه برادران هزاره و اهل تشیع در پهلوي برادران ازبك، پشتون ، تاجك و سایر اقوام برادر قاطعانه حمایت و پشتیباني میکند . امارت اسلامي افغانستان به خون شما پیروز شده ، شما بودید که به خاطر استقرار نظام واقعاً اسلامي و به منظور اینکه در کشور یك قیادت و یك امارت واحد اسلامي به میان آید، قرباني دادید؛ بناً پیروزي امارت اسلامي ثمره خون شما میباشد، امارت اسلامي افغانستان به سعي و تلاش شما پیش میرود؛ اگر شما در پهلوي امارت نباشید شاید که امارت اسلامي این چنین قوي و مستحکم نباشد. در اخیر من به شما اطمینان میدهم که امارت اسلامي همکاري هاي بي دریغ شما را هیچ وقت فراموش نکرده و نمیکند و تا آخرین امکانات در پهلوي شما و همکار با شما خواهد بود.

همچنان در اجتماع دیگریکه به همین مناسبت قبل از ظهر پنجشنبه یازدهم محرم الحرام در مدرسه آیت الله حجت (چنداول) به اشتراك صد ها تن از شهروندان عزیز شهر کابل اعم از مرد و زن تدویر یافته بود؛ نخست پس از آنکه محترم حجت الإسلام الحاج سید نواب «حیدري» سخنان ارزشمند در رابطه به شهادت حضرت امام حسین«رض» و ارزشمندي انقلاب حسیني اظهار داشتند: محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور ضمن اینکه پرده از جنایت یزید در واقعه کربلا برداشت ، مسلمانان را متوجه وظایف و مسوولیت هاي فردي ، اجتماعي، دیني و اسلامي شان گردانید اضافه داشت که انقلاب حسیني انقلابِ است که براي هر دو طبقه مسلمان (سني و شیعه) مسلم و قابل قبول میباشد.

در این محفل محترم داکتر باز محمد «شادمن» مسؤول اداره شعر و ادب وزارت اطلاعات و کلتور، محترم مولوي عبدالسلام «عظیمي» رئیس موزیم ملي، و محترم مولوي نقیب الله رئیس نشرات رادیو صداي شریعت نیز اشتراك ورزیده بودند.

بخش اول محفل، ظهر همان روز با دعائیه پر سوز توسط محترم حیدري خاتمه یافت .

محافل و اجتماعاتیکه امسال به گرامیداشت از انقلاب عظیم حسیني در مساجد و تکایاي شهر کابل به اشتراك هزاران تن از هموطنان ما اعم از مرد و زن، شیعه و سني که در جمع آنها مسوولین بلند پایه امارت اسلامي افغانستان نیز حضور داشتند؛ هکذا تسهیلات و آزادي هائیکه شب و روز درین ایام از جانب امارت اسلامي براي برادران هزاره و اهل تشیع ما در شهر کابل و سایر محلات هزاره نشین وسیعاً فراهم گردیده بود، واقعاً در بیست سال گذشته در کشور بي سابقه بوده . این عمل ضمن اینکه شایان فخر و قدرداني میباشد نشانه، بارز بود از حسن نیت و پالیسي صادقانه، امارت اسلامي افغانستان در قبال برادران هزاره و اهل تشیع کشور؛ همچنان مهر صحت گذاشت بر این نکته که امارت اسلامي افغانستان واقعاً امارت همه اقوام برادر در کشور میباشد.

مهربان

از اثر تلاش هاي ...

و عمران مجدد کشور ویران شده خویش با امکانات دست داشته اقدامات ارزنده نموده و طي مدت کوتاه زمان بیش از یکصدو بیست و پنج فابریکه خورد و کلان را در مرکز و ولایات کشور فعال نموده است .

با احیاي مجدد و فعال ساختن فابریکات متذکره که در جریان زمام داري رژیم هاي قبلي از اثر جنگ ها تخریب و تجهیزات آن غارت گردیده بود زمینه کار و مصروفیت بیشتر براي هموطنان ما فراهم گردیده است .

همچنان وزارت معادن و صنایع تا کنون فابریکات مهم تولیدي در مرکز شهر کابل ولایات قندهار، هرات ، کندز هلمند و سایر ولایات فعال نموده و براي متشبثین و تجار ملي کشور علاوه بر تسهیلات لازم کار و فعالیت زمین هاي مورد ضرورت را توزیع نموده آنها را از تکس معاف کرده است .

امریکا داکتر عبدالقدیر...

لپاره بندیز لګول شوي دي چي د نړي د نورو کمپنیو نه مرسته تر لاسه نه کړي. د شمالي کوریا یوه کمپني په دي تورچي د ډاکتر عبدالقدیر خان دغه لابراتوار ته یي پرزي برابرولي هم بندیز لګول شوي دي.

مولوي ګل عالم که به ...

انتقاد گرفته عملکرد هاي مسعود را که باعث ادامه جنگ و ویراني کشور مي گردد ؛ شدیداً محکوم نموده است .

موصوف حین خطبه نماز جمعه در ولسوالي پنجشیر عملکرد ها و سیاست هاي مسعود را در حال که وي نیز حاضر بود با الفاظ زشت مورد نکوهش قرار داده و آنرا مخالف شریعت اسلامي تلقي نمود.

موصوف بعد از ایراد سخنانش از جانب مسعود زنداني گردیده که بعداً با میانجیگري و وساطت پیهم موي سفیدان قوم از زندان آزاد گردید.

د کابل ښار د برقي سیستم ...

او دعوایي له لیستلو وروسته د برق د لین غزولو سره نوي سرکیت پرانستل شو.

خبرزیاتوي چي پدي غونډه کي د اوبو او بریښنا وزارت سرپرست محترم ملا محمد عیسي اخند د بهرنیو چارو وزارت معین محترم مولوي سید محمد «حقاني» د ملي دفاع تخنیکي مرستیال ملا عبدالرؤف عارف، د سروبي ولسوالي ولسوال ملا رحمت الله او د اسلامي امارت ګڼ شمیر لوړ رتبه مسولینو ګډون کړي و .

بخاطر ارجگزاري به روان ...

خاتمین ضمن دعا به روان پاك شهداي راه اسلام ، صلح سراسري و پیروزیهاي هرچه بیشتر مجاهدین اردوي اسلامي افغانستان را تحت قیادت عالیقدر امیر المؤمنین از بارگاه ایزد منان استدعا نمودند.

د منګني ختیځ په هکله ...

شان عرفات او یاهو له توني بلیر او البرایټ سره جلا جلا کتني کړي دي او د دوي تر منځ مخامخ کتنه نه ده شوي.

د یلتسین کانګري استازي...

یو روسي ترجمان ددغي پیښي د غندني په وخت ویلي دي چي د انعام اندازه ډیره زیاته ده او د روسیي حکومت به دا رقم ادانه کړي، بلکي دچیچنیاحکومت به یي پخپله ادا کوي.

از اثر ریزش بارانها در ...

بیست قریه ولسوالي متذکره خساره مند گردیده است .

علاوه به وارد شدن خسارات متذکره، مالي ؤ جاني به مردم آن ولسوالي که رقم دقیق آن تا هنوز گزارش داده نشده است ،باغهاي میوه و زمین هاي زراعتي و تعداد زیادي از مواشي از بین رفته است .

مردم اسیب دیده ولسوالي سوري ضرورت مبرم به کمك هاي عاجل امداد رساني داشته امید میرود تا موسسات خیریه به اسیب دیده گان آن ولسوالي مساعدت بشري نمایند.

په اسیا کي تر ټولو لوي...

طاهر القادري دغه پلاوي ته ویلي دي چي په اشغالي کشمیر کي د بشري حقوقو نه څرګنده سرغړونه، همدغه شان په کشمیري مسلمانانو باندي پر له پسي زور زیاتي د هند د دهشت ګردي او ویري اچوني څرګند ثبوت دي.

سنګ تهداب یك محراب ...

منطقه مشکانهاي ولسوالي انجیل تدویر یافته بود ابتدا ختم قرآن عظیم الشان صورت گرفت.

سپس ولسوال ولسوالي انجیل و تني چند از علما در رابطه به اهمیت و ضرورت اعمار مساجد و اماکن مقدسه صحبت نموده و وعده هرگونه کمك و مساعدت درین راستا ابراز نمودند.

مسجد متذکره به مصرف ۱۳۰ ملیون افغاني طور پخته و اساسي به همکاري مردم ولسوالي متذکره اعمار میگردد که گنجایش سه صد نفر نماز گزار را در یك وقت دارا میباشد.

کار انتقال جریان ...

وزارت آب و برق امارت اسلامي جریان برق به بسیاري از مناطق شهر لشکرگاه مرکز ولایت هلمند تامین گردیده است.

کار تمدید لین و انتقال جریان برق به سایر محلات لشکرگاه دوام داشته که انشاء الله در آینده نزدیك جریان برق بصورت مکمل به مرکز شهر تامین گردیده ؤ مردم آن شهر مانند کابل و کندهار از نور برق مستفید گردند.

تأمین جریان برق به شهر لشکرگاه رول ارزنده در زنده گي مردم داشته که میتوان در فعال ساختن فابریکات تولیدي و پروژه هاي صنعتي آزاد استفاده نمایند.

د شریعت تبصره

د ایکو په غونډه کي د رباني ګډون د افغان مجاهد ولس د هیلو سپکاوي دي

ښکاره شویده چي د سیمه ایزي اقتصادي ملګرتیا د تنظیم (ایکو) سرمشریزه غونډه د مي د میاشتي په لسمه او یوولسمه نیټه یعني نن او سبا د قزاقستان په پلازمینه آلماتا کي تر سره کیږي چي ددي غونډي د چارو د سمبالتیا په خاطر د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران لا وختي آلماتا ته رسیدلي تر څو د تنظیم د مشرانو د غونډي لپاره تیاري ونیسي خو متاسفانه ویل کیږي چي د افغانستان له اړخه به برهان الدین رباني په دي سرمشریزه کي برخه اخلي. ډیره د افسوس او حیرانتیا خبره ده چي د یوه سر لوړي او نورو ته د خپلواکي د احساس ورکوونکي ملت په نمایندګي غونډي ته یو داسي څوك بلل کیږي چي نه یي د اوسیدو ځاي ښکاره دي نه یي د واك سیمه چالیدلي او نه دي د خپلي توري ماضي بي واکه او شرم څخه ډك حال د ځرګندیدو له کبله له چا سره د مخامخ کیدو جرأت لري د تنظیم د غړو هیوادو د واکدارانو منطق ، سوچ او پریکړو ته انسان خوب وړي دا ځکه چي هغوي دومره استعداد او واك نه لري چي د ښه او بد تر منځ توپیر وکړي، د غړو هیوادو د واکمنو استاځو په ګډون خپل تنظیم ځواکمن او د اعتبار وړ وګرځوي او د خپلو فیصلو د عملي کیدو له اړخه ځانته ډاډ حاصل کړي. هغوي داسي څوك د افغانستان د مجاهد ولس په نمایندګي په خپل منځ کي کښینوي چي هغه د خپل ملت د یو نیم ملیون شهیدانو او سل ها و زرو کونډو، یتیمانو ، معیوبو او معلولینو هیلو او ارمانونو ته سپکاوي کړي د هغوي غوښتني یي تر پښو لاندي کړي، د هغوي له قاتلانو او د خپل هیواد له غدارانو سره یي بیا هم د خپل ولس او هیواد ویاړونو، ته اوریل او خپل هیواد یي په کنډواله بدل کړي، افغان مجاهد ملت خو رباني د محاکمي میدان ته راښکل غواړي نه د دوي په نمایندګي په غونډو کي دده ګډون کول. که ایکو د غړو هیوادونو د حکومتونو او ولسونو د سوکالي تنظیم وي او هلته د غړو هیوادونو استاځي په کي برخه اخلي نو مهرباني دي وکړي او ودي وایي چي رباني چا د افغانستان د مسلمان ولس مشر او استاځي کړي چي هغوي یي هلته د افغانانو د مشر په نامه مني. افغان مسلمان ملت خو د رباني پر خلاف عمومي پاڅون کړي ټول هیواد وال هغه یو مجرم بولي حتي د رباني د خپ کلي او سیمي خلك د هغه پر ضد په مجاهده لګیا دي نو هغه څنګه د داسي یوه ولس نمایندګي کولاي شي چي هغه ولس دي خپل تښتیدلي او پوروړي بولي د ایکو مشران دي سر په ګریوان کي کښته کړي چي که دوي د افغانستان د مجاهد ولس په ځاي وي نو هغوي به د داسي یو کس په مقابل کي چي د هغوي د ویاړونو بربادونکي او د هیلو تر پښو لاندي کونکي وي څه کړي وو ؟ آیا هغوي به دي ته حاضر شوي ؤ چي د دوي د هیواد په استاځیتوب دي داسي یو کس وبلل شي چي هغه د رباني په څیر شخصیت او کړه وړه ولري.

مونږ له ټولو څخه دا پوښتو چي دا کوم انصاف دي چي په خپلو هیوادو کي مجرمین محاکمه کوي او زمونږ د هیواد تر ټولو اوسني ستر ګنهکار زمونږ د باتور ملت په استاځي توب په څنګ کښي کینوي ؟ ایکو خوبه رباني ته بلنه ورکړي او هغه به هم یا پیاده یا په کچرو او یا هم د روسي کاماز موټرو پواسطه کولاب ته ځان ورسوي او له هغه ځایه به الماتا ته یوتلل شي خو چي کومي فیصلي هلته کیږي د هغه عملي کیدل به څوك کوي ؟ رباني چي د ځان د ساتلو لپاره په افغانستان کي ځاي نه ویني کله د ګلیم جم بدنامو ملیشو، کله د وحدتي لوټمارانو او کله هم د مسعود د ټوپکوالو په څنګ کي شپي سبا کوي د غونډي د پریکړو د عملي کولو په هکله به څه وکولاي شي؟ په ایکو کي د رباني ګډون پرته له دي چي د ایکو حیثیت ټیټو، فیصلي یي غیر عملي او موجودیت یي بي ګټي او اضافي ثابت کړي نور به غړو هیوادو ته هیڅ ګټه هم ونه رسوي.

که څوك غواړي چي ایکو په رښتیا هم په سیمه کي د اقتصادي ملګرتیا د تنظیم په څیر واقعي او عملي موجودیت او د اعتبار وړ حیثیت ولري نو د افغانستان د استاځي په هکله باید خپله پریکړه ژر تر ژره نوي کړي او په ایکو کي د افغانستان چوکي د افغانستان د مجاهد ملت رښتیني او خدمتګار استاځي یعني د افغانستان د اسلامي امارت استاځيّ ته ورو سپاري. په دي کار سره به له یوي خوا په ایکو کي د یوه رښتیني افغاني حکومت د استاځي په ګډون د ایکو حیثیت او اقتدار زیات شي او پریکړي به یي عملي توان پیدا کړي او له بلي خوا به دغه تنظیم د افغان مجاهد ولس په سترګو کي د سیمي د هیوادو د اقتصادي پرمختیا لپاره د یوه ریښتوني تنظیم په څیر ځاي ونیسي او د تنظیم غړو هیوادو ته به د افغانستان د اسلامي امارت د منلو په صورت کي له هغه آسانتیاو څخه ګټه په لاس ورشي کوم چي زمونږ هیواد ته د خداي ورکړي طبیعي او جغرافیایي موقعیت له کبله ور په برخه شوي دي. اوس نو د ایکو د مشرانو خوښه ده چي خپل حیثیت او واك زیاتوي او که په خپلي سپکاوي پسي یي پښي راپورته کړي دي .

و ما علینا الا البلاغ

د ۱۵ کلني جنګ د پاي ته رسولو لپاره د سوډان حکومت باغیانو ته عمومي بخښنه اعلان کړه

خرطوم : د نړیوالو خبري سرچینو دورکړل شویو ریوټونو له مخي ویل کیږي چي : د سوډان په جنوبي سیمو کي د حکومت پر خلاف په جګړه اخته ټولو باغیانو ته د حکومت لخوا نه عمومي بخښنه اعلان کړي شوي ده .

د سوډان د ۱۵ کلني کورني جګړي د پاي ته رسولو لپاره د لومړنیو پیل کیدونکو مذاکراتو او کتنو څخه وړاندي حکومت د لومړي ځل لپاره باغیانو ته عفوه اعلان کړي ده تر څو ددغه عفوي نه په استفادي سره روغه جوړه منځ ته راشي.

د غزني ولایت د اندړو ولسوالي پنځه کیلو متره سړك ترمیم شو

د غزني ولایت د اندړو د ولسوالي پنځه کیلو متره سرك په دي وروستیو وختونو کي ترمیم اود ترافیکو د استفادي وړ وګرځید.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي د غزني ولایت د اندړو د ولسوالي د سرك د ترمیمولو کار چي په دي وروستیو وختونو کي ددغي ولسوالي د منسوبینو او د سیمي د خلکو په ګډې همکاري سره پیل شوي ؤ په بیړه روان دي چي تر اوسه پوري یي پنځه کیلو متره ترمیم او د ترافیکو د استفادي وړ ګرځیدلي دي .

د ننګرهار د ولایت د خوګیاڼیو په ولسوالي کي د تندر د راپریوتلو په اثر دولس تنه ووژل شول

د ننګرهار ولایت د خوګیانیو په ولسوالي کي د تندر د راپریوتلو په اثر دولس تنه‌چي‌ښځي‌اوکوچنیان‌هم‌په‌کي‌شامل‌دي‌وژل‌شویدي.

د ننګرهار له ولایت نه په رارسیدلیو خبرونو کي ویل شویدي چي تیره ورځ د ننګرهار ولایت په لویدیځ کي د خوګیانیو د ولسوالي مربوط یوه کلي کي د تندر رالویدلو له کبله ددي کلي دولس تنه چي کوچنیان اوښځي‌هم‌په‌کي‌شاملي‌دي‌وژل‌شویدي.

په خبر کي ویل شویدي چي دي ناځاپي ماتم ددي سیمي خلك له ژور خفګان سره مخ کړل .

یادونه

ښاغلي ستاسو ایمان په اجازه درنګري چي دا دول سپیځلي پاني په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press